امنيت شورا

ويش: عمومي

د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر ۱۷

# ۲۴۸۹(۲۰۱۹) پريکړه ليک

**د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر پر ۱۷ د امنيت شورا په ۸۶۲۰ غونډه کې د امنيت شورا له خوا تصويب شوی**

*د امنيت شورا،*

د افغانستان په اړه د پخوانيو پريکړه ليکونو په *يادولو سره*، په ځانګړې توګه د ۲۴۶۰ (۲۰۱۹)ګڼې پريکړه ليک چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) ماموريت د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر تر ۱۷ نيټې پورې غځوي،

پر هغه مهم رول *ټينګار* چې ملګري ملتونه به هغه ته په افغانستان کې د سولې او ټيکاو د ترويج د کچې د لوړولو لپاره دوام ورکړي،

د افغانستان د حاکميت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي يووالي پر وړاندې د خپلې قوي ژمنې او همدارازد افغانستان د حکومت او خلکو پر دوامداره ملاتړ *بيا ټينګار* کوي،

د شخړې د سوله ييز حل او د هر اړخيز سياسي جوړجاړي په لور د افغانانو تر رهبري او مالکيت لاندې د يوه جامع او ټولشموله سياسي بهير پر مرکزي اهميت *ټينګار* او پدې برخه کې د پرمختګ هرکلی کوي،

د افغانستان د حکومت او خلکو د هيلو *يادونه* چې موخه يې په سلو کلونو کې د افغانستان د خپلواکۍ د بيرته ترلاسه کولو په برخه کې د نړيوالې همکارۍ د يوه پليټفارم په حيث د هيواد د دريځ را ژوندي کول دي،

د ژنيوا د دوه اړخيزې حساب ورکونې د چوکاټ (GMAF) په اړه، لکه څنګه چې د ژنيوا په کنفرانس کښې پرې موافقه شوې ، د افغانستان د حکومت او نړيوالې ټولنې ترمنځ د ستراتيژيکې اجماع *هرکلی* کوي ،

په ځانګړي ډول د افغانستان د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو (ANDSF) او همدارنګه د خپل هيواد د امنيت د تامين او د ترهګرۍ پر وړاندې د هغوي د مبارزې په زمينه کې د افغان ملي پوليسو (ANP) د ظرفيتونو د لوړولو په برخه کې د افغانستان د حکومت د ملاتړ پر اهميت *ټينګار* کوي ،

د کميټې جاري کار ته *په پام سره* چې د امنيت شورا د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پريکړه ليک په تعقيب را منځ ته شوې، د دې د تحليلي ملاتړ او د بنديزونو د نظارت د ټيم په شمول، او د کميټې سره د افغان حکومت او يوناما د همکارۍ دوام،

۱. د عمومي منشي د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر د ۳ نيټې (S/2019/703) د راپور *هرکلی کوي*؛

۲. د افغانستان د حکومت او خلکو د ملاتړ په خاطر، د افغانستان حکومت د ملګرو ملتونو د اوږدمهاله ژمنو په تړاو خپله قدرداني *څرګندوي* او د يوناما او د عمومي منشي د ځانګړي استازي له کار څخه خپل بشپړ ملاتړ تکراروي ، او د دوامداره کافي سرچينو د يقيني کولو پر اړتيا ټينګار کوي تر څو يوناما خپل ماموريت ترسره کړي؛

۳. د ورکړل شویو دندو، لومړیتوبونو او د یوناما د اړوندو سرچینو د پلې کولو په برخه کې، د یوناما د روانو هڅو هرکلی کوي او د عمومي منشي د سپارښتنو د پلي کیدو غوښتنه کوي؛

۴. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر تر ۱۷ نیټې د یوناما د ماموریت د غځولو پریکړه کوي، لکه څنګه چې په لاندې پریکړه لیکونو کې تعریف شوې. (۲۰۰۶) ۱۶۶۲ ، (۲۰۰۷) ۱۷۴۶ ، (۲۰۰۸) ۱۸۰۶ ، (۲۰۰۹) ۱۸۶۸ ، (۲۰۱۰) ۱۹۱۷ ، (۲۰۱۱) ۱۹۴۷ ، (۲۰۱۲) ۲۰۴۱ ، (۲۰۱۳) ۲۰۱۹۶، (۲۰۱۴) ۲۱۴۵ ، (۲۰۱۵) ۲۲۱۰ ، (۲۰۱۶) ۲۲۷۴ ، (۲۰۱۷) ۲۳۴۴ ، (۲۰۱۸) ۲۴۰۵ ، (۲۰۱۹) ۲۴۶۰؛

۵. همدارنګه پریکړه کوي چې یوناما او د عمومي منشي ځانګړی استازی، د دوی د اختیاراتو په دننه کې او په یوه ډول چې د افغان حاکمیت ، مشرتابه او مالکیت سره په سمون کې وي، د افغانستان د حکومت سره په بشپړه همکارۍ او د اړوندو نړیوالو تړونونو سره په سمون کې او په لاندې ډول په وړاندې شویو لومړیتوبونو باندې په ځانګړې تمرکز سره، به د نړیوالو ملکو هڅو رهبري کوي او همغږي ته دوام ورکوي:

(الف) که چیرې د افغانستان د حکومت له خوا او د هغه سره په نږدې سلامشورو کې غوښتنه وشي ، د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو تر مشرتابه لاندې د سولې د پروسې د ملاتړ لپاره لاسرسی او د ښه نیت دفترونه چمتو کړئ، د افغانستان د اساسي قانون د چوکاټ په دننه او د امنیت شورا لخوا په (۱۹۹۹) ۱۲۶۷، (۲۰۱۱) ۱۹۸۸ پریکړه لیکونو کې او د هغې په اړوندو نورو پریکړه لیکونو کې د معرفي شویو طرزالعملونو د پلي کیدو او د تدبیرونو د تطبیق لپاره په بشپړ درناوي سره، د اعتماد جوړونې د تدبیرونو وړاندیز او ملاتړ کوي؛

(ب) د افغانستان له حکومت سره په نږدې سلامشوره او همغږۍ کې ، د راتلونکو پر وخت، با اعتباره، رڼو او ټولشموله افغان ټاکنو د ترسره کولو ، د ولسمشرۍ د ټاکنو په شمول، چې د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر د ۲۸ نیټې لپاره پلان شوې ملاتړ کوي، د ټاکنو د ورځې او له هغه وروسته مودې لپاره د ټاکنو د مدیریت له ادارو سره له نږدې کار کوي ، د رښتینو او رڼو پایلو د مدیریت د پروسې د وړاندې کولو په برخه کې د دوی ملاتړ کوي ، د ټاکنو پر مهال او د ټاکنو په جریان کې د نړیوالې ټولنې د هڅو همغږي کوي او د افغانستان د حکومت د ټاکنیزو اصلاحاتو د هڅو په ملاتړ سره ، د ټاکنیز بهیر د پایښت، صداقت او ټولشمولوالی، او همدارنګه د ټاکنیز مدیریت د ارګانونو او نورو اړوندو افغان ادارو لپاره چې په دې بهیر کې ښکیل دي، د ظرفیت لوړولو او تخنیکي مرستو د چمتو کولو په برخه کې د هڅو زیاتوالی؛

(ج) د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ د مشترک رییس په توګه ، د افغانستان د حکومت د پرمختیایي او حکومتولۍ د لومړیتوبونو په برخه کې د نړیوالې ټولنې له خوا د همغږي د ملاتړ ترویج کوي، د حکومت د اصلاحاتو د اجنډا د روانې پراختیا او ترتیب په شمول، د مرستې د کارولو د موثریت، د نړیوالو مرسته کوونکو او سازمانونو همغږي کوي، د تسهیل کوونکي او د پراختیایي پالیسې د مجتمع د ګډ تنظیمونکي په حیث، او په ورته وخت کې، د تعقیبي چارو د پر مخ بیولو لپاره د نړیوالو شریکبانو همغږي کوي، په خاص ډول د معلوماتو د شریکولو له لارې، او د هغو هڅو ملاتړ کوي چې موخه یې د دوه اړخیزې حساب ورکونې او روڼتیا ملاتړ دی، د لګښت د موثریت په شمول، په ۲۱۰۸ کال کې په ژنیوا کنفرانس کې د ترسره شویو ژمنو سره په سمون کې د مرستې د کارولو موثریت؛

(د) د ټیکاو او سولې د ترویج ، او همدارنګه د آسیا زړه په بهیر کې د خپل نقش په کارولو سره د افغانستان سره د مرستې ترسره کول تر څو د سیمه ییزې همکارۍ د ملاتړ له لارې سیمه ییزې همکارۍ او نښلون ته وده ورکړي او د تر لاسه شویو لاسته راوړنو پر بنسټ د یوه سوکاله افغانستان لپاره کار وشي، تر څو د روڼوالي، ازادي او ټولشمولوالي پر بنسټ د نښلون په اړه شراکت ته وده ورکړي، او د هغو ګډو هڅو هرکلی کوي چې موخه یې د خبرو اترو او همکاري پیاوړي کول او د سیمې په کچه د اقتصادي پرمختیا د شریکو موخو پرمخ وړل دي ؛

(هـ) د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر(OHCHR) په ملاتړ سره ، د بشري حقونو د ساتنې او ترویج په برخه کې د افغانستان د حکومت، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او مدني ټولنې د ظرفیت د پیاوړي کولو او د هغه سره همکاري ته دوام ورکوي، او همدارنګه د افغانستان د حکومت او اړوندو نړیوالو او محلي نادولتي

سازمانونو سره د ملکي کسانو د وضعیت د معلومولو په برخه کې همکاري کوي، د هغوي د ساتنې د یقیني کولو په موخه هڅې همغږې کوي، توقیف ځایونه او د هغو کسانو سره چلند ارزوي څوک چې د خپلو ازادیو څخه محروم شوي، حساب ورکونې ته وده ورکوي، د قضايي او غیر قضايي بهیرونو د را منځ ته کولو او پلي کولو په اړه د افغانستان د حکومت او شریکبانو سره مشوره او خبرې اترې کوي ، د بشري حقونو د پراخو سرغړونو او ناوړه ګټې اخیستنې او همدارنګه د نړیوالو جرمونو میراث ته ځواب وایي او د هغوي د بیا پیښیدو څخه مخنیوی کوي او د افغانستان د اساسي قانون د بشري حقونو د احکامو او بنسټیزو ازادیو د بشپړ تطبیق سره مرسته کوي کوم چې افغانستان لاسلیک کړي، په خاص ډول هغه چې د ښځو له خوا د بشري حقونو څخه د بشپړ برخمن کیدو په اړه او د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو په اړه د کنوانسیون (CEDAW) په اړه دي؛

(و) په ملي او سیمه ییزه کچه د سولې د خبرو اترو او د سولې جوړونې د عمومي ستراتیژۍ په شمول ، د پریکړې نیولو په ټولو کچو کې د ښځو د ښکیلتیا او رهبري، او پدې برخه کې د جنډر د مساواتو او د ښځو او نجونو د پیاوړتیا ، تعلیم ، بشري حقونو او بشپړ ، خوندي ، مساوي ، مؤثره او معنی لرونکې ګډون ملاتړ کوي ، د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي تر څو د ملي عمل ۱۳۲۵ پلان په بشپړه توګه پلي او تمویل کړي، تر څو د ملکیانو ، په خاص ډول د ماشومانو، ښځو او بې ځایه شویو کسانو، د جنسي سرغړونو او د جنډر پر بنسټ د را منځ ته شویو سرغړونو په شمول، ساتنه یقیني کړي، او دا چې د داسې سرغړونو او ناوړه ګټې اخیستنې مرتکبین مسول وګڼي؛

(ز) د ماشومانو پر وړاندې د سرغړونو او ناوړه ګټه اخیستنې په اړه راپور ورکولو ته دوام ورکوي، او د وسله والې شخړې له امله د زیانمن شویو ماشومانو د ساتنې د پیاوړتیا لپاره د هڅو ملاتړ کوي ، د افغانستان د حکومت سره د ښکیلتیا په ګډون تر څو د عمل پلان او د لارې نقشه په بشپړ ډول پلي کړي؛

(ح) د پربکنده ملاتړ د غیر جنګي ماموریت سره له نږدې، چیرې چې اړین وي، همغږۍ او همکارۍ کوي څرنګه چې د ناتو سازمان او د افغانستان د حکومت تر منځ ، او همدا راز د ناتو د لوړ پوړی ملکي استازی سره هوکړه شوې؛

۶. په ولایتونو کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو ، وجهي صندوقونو او پروګرامونو د دوامداره او مناسب شتون پر جدي اهمیت *ټینګار کوي* ، چې بنسټ یې د "ملګرو ملتونو پر واحد" روش ولاړ دی او د افغانستان د حکومت سره په نږدې سلامشوره او همغږي کې د افغانستان د حکومت له لومړیتوبونو څخه ملاتړ کوي؛

۷. د یوناما او ځانګړي استازي څخه *غوښتنه کیږي* چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د اړوندو ادارو ، صندوقونو او پروګرامونو تر منځ د لا زیات انسجام ، همغږي او موثریت د ترلاسه کولو لپاره هڅې لا هم نورې زیاتې کړي ترڅو د افغانستان د دولت د اصلاحاتو د اجنډا سره په بشپړ سمون کې د دوی ټولیز اغیزمنتوب اعظمي کچې ته ورسیږي، او د نړیوالو ملکي هڅو رهبري کولو ته چې موخه یې د ملګرو ملتونو په ټولو پروګرامونو او فعالیتونو کې د دوی د مسؤلیتونو د ترسره کولو لپاره د افغاني ادارو د رول او نقش پیاوړتیا ده، دوام وکړي، تر څو د لومړیتوب په لاندې ساحو کې د تطبیق د ملي ماډل په لور حرکت وکړي:

(الف) د یوناما د یوه مناسب حضور او همدارنګه د افغانستان د دولت د هڅو د تقویت له لارې ملاتړ ، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر (UNODC) سره د همکارۍ د پیاوړتیا له لارې او د هغو په شمول، د هیواد په کچه د کابل د بهیر پلي کیدل ؛

(ب) د کابل د بهیر او ژنیوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ (GMAF) سره سم، د سولې د روانې پروسې ، د بودیجې د اجراء او په ټول هېواد کې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د یوې لازمي برخې په توګه د انتقالي عدالت په شمول، حکومتدارۍ او د قانون حاکمیت ته د ودې ورکولو لپاره د خپلو ژمنو په پوره کولو کې د افغانستان د حکومت د هڅو ملاتړ کوي؛

(ج) د اړو افغانانو سره د ملاتړ په برخه کې او د بشر دوستانه اصولو سره په سمون کې، د بشري مرستو د هڅو رسولو همغږي او تسهیل کوي، د ملي او ځایي چاراواکو لپاره د داخلي بې ځایه شویو خلکو سره د مرستې او ساتنې په موخه د موثره ملاتړ د برابرولو په شمول، او د دغو مسلو په تړاو د پرمختیایي حل لارو په اړه په ځانګړي تمرکز سره، له ګاونډیو او نورو

هیوادونو څخه د راستنیدونکو کډوالو او داخلي بې ځایه شویو کسانو د په خپلې خوښې، خوندي ، له وقاره ډکې او دوامدارې راستنیدنې لپاره مناسب شرایط را منځ ته کړي؛

۸. په ټولو افغان او نړیوالو خواوو غږکوي چې له یوناما سره د دې ادارې د ماموریت د پلې کولو او هغو فعالیتونو په برخه کې چې موخه یې د هیواد په کچه د ملګرو ملتونو او د هغوي د اړوندو کارکونکو د امنیت او خوځښت ازادي ته وده ورکول دي، همغږي شي؛

۹. له عمومي منشي *غوښتنه کوي* چې په هرو دریو میاشتو کې په افغانستان کې د تحولاتو په اړه شورا ته راپور ورکړي، او په خپلو راپورونو کې د معیارونو په پرتله د یوناما د ماموریت د پلې کولو په برخه کې، د ولایتي کچې په شمول، او هغه لومړیتوبونه چې په دغه پریکړه لیک کې ځای شوې، د پرمختګ د اندازه کولو او معلوملو لپاره یوه ارزونه شامله کړي؛

۱۰. *پریکړه کوي* چې په فعاله توګه موضوع د خپل کار په دستور کې وساتي.

---